# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۸٦ ګڼه / سه شنبه ۰۹ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / اول حوت ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۲۰ فبروري ۲۰۲٤ میلادي


## برگزاری نشست کمیته ایجاد تسهیلات برای تجار عودت‌کنندگان

درنشست کمیته ایجاد تسهیلات بـرای تجارعودت‌کننـده، روی ایجاد سـهولت های بیشتر برای آنان بحث شد. دفتر مطبوعاتـی معاونیت اداری ریاسـت الـوزرا، در خبرنامه‌یی نوشته اسـت که این نشست به ریاست مولوی عبدالسلام حنفی، معـاون اداری ریاسـت الوزرا و با اشـتراک نورالدیـن عزیزی، سرپرسـت وزارت صنعـت و تجارت و رییس کمیته یادشـده برگزار شد. دراین نشست، نورالدین عزیزی در مـورد فعالیت‌ها و کاکردهای کمیته متذکره ، در راستای ایجاد تسهیلات برای تجارعودت کننده، معلومات داد و روی موضوعات چگونگی فـورم تثبیـت تجار عودت کننده، توزیع .... ص۷

## د کابینې غونډه؛
# د اوبو د ضایع کېدو پر مخنیوي بحث وشو



پـرون ماښـام چـې د کابینې په ۱۷مه غونډه کـې د اوبو د ضایع کېدو د مخنیوي پر اجنډا او لارو چارو بحث شوی. یاده غونـډه د رییس‌الـوزرا ملا محمدحسـن اخنـد په مشـرۍ ترسـره شـوه چې د غونډې ستره برخـه پکـې د اوبـو د ضایـع کېـدو د لارو چـارو مخنیـوی و. په دې غونډه کې د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ ... ۷مخ

## کانونو او پټرولیم وزارت:
# په کور دننه دې کانونه پروسس شي



**شریعت:** په دې وروسـتیو کې ایراني چارواکو ویلي وو، چې له افغانسـتانه زر ټنه زینک یا روی ډبره صادره شـوې ده.په دغارون بندر کې د ایران د ګمرکونو لوی مدیر سید حسن رحیمزاده څرګنده کړې وه، چې دغه ډبرې لومړی له بامیان څخه هرات او وروسته له هغه ځایه ایران ته صادر شـوې دي.د کانونو او پټرولیم وزارت چارواکو که څه ... ۷مخ

## یو روسی پانګه وال غواړي د افغانستان د نفتو او ګازو په برخه کې پانګونه‌وکړي

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، له روسي پانګه وال سره وکتل. د کانونو او پټرولیـم وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دې کتنه کې، روسـي پانګه وال د خپل شـرکت د تجربې او فعالیتونو په اړه معلومات ورکـړي او ویلي يې دي: «زموږ شرکت له ۱۲۰ کلونو راپدېخوا په ایران، عراق، سوریه او تاجکستان کـې فعالیـت لـري او د پر مختللو وسـایلو په درلودو سره چمتو یوو په افغانستان کې هم کار وکړو.» هغه، دغه راز له ګازو او... ۷مخ

## والی هرات:
# از معادن زغال سنگ هرات در تولید برق کارگرفته می شود

شـیخ الحدیث مولانا اسـلام جار والی هرات در نشست با مسوولان محلی، گفت که برخی از شرکت ها علاقه مند سرمایه گذاری تولید برق به بهره گیری از زغال سنگ اند .

والـی هرات مـی گوید کـه اداره محلی در تلاش اسـت تا از طریق تولید برق، بادی وسـولری نیزبرق مـورد نیاز مردم خصوصا شـهرک صنعتی را رفع کند.

در همیـن حـال رئیس معـادن و پطرولیـم هرات می گوید که سـه معدن ذغال سـنگ در حال حاضر در ایـن ولایت فعال اسـت که از لحـاظ کیفیت می توانـد برق نیز تولیـد کند. از سـویی هـم رئیس محیط زیسـت هرات می گوید که باید اسـتفاده از برق سولری را در جامعه فرهنگ سـازی نماییم زیرا استفاده از برق سـولری برای مردم ارزان تمام می شود.

## چارواکي:
# د نورستان او پنجشېر د طبیعي پېښو زیانمنو سره به مرسته وشي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت ډاډ ورکړی چې په نورسـتان او پنجشـېر ولایتونو کـې د طبیعي پېښو له امله له زیانمنو کورنیو سره به همکاري وشي. دغه وزارت په یوې اعلامیه کې د نورسـتان او پنجشېر ولایتونو د کډوالو ریاستونو ته حکم کړی چـې د دغو کورنیـو اړتیاوو د تامیـن لپاره له نورو بنسـټونو سـره همکاري او همغږي وکړي. د کډوالو چـارو وزارت همدارنګـه له خیریه



بنسـټونو او سوداګرو غوښتي چې له زیانمنو کورنیو سره همکاري وکړي. د نورستان په نورګرام ولسوالۍ اروند د تتین درې په نکـره کلي کې د غره ښـویېدنې له امله ۲۲ تنه مړه شوي چې تر اوسه د ۹ تنو جسدونه راایستل شوي او د پاتې نورو د لټون عملیات روان دي. دغه راز په پنجشېر ولایت کې هم د واورې ښویېدنې له امله دوه تنه کان کېندونکي مړه شوي او یو بل ټپي دی.

## آگاهان اقتصادی:
# با آغاز پروژه کاسا یک‌هزار افغانستان اعتبار بیشتر سرمایه‌گذاری را بدست می‌آورد

**شـریعت:** بانـک جهانـی در اعلامیه‌ی گفته است که این بانک رویکـرد جدیـدی را در رابطه به حمایت از مردم افغانسـتان روی دسـت گرفته کـه به اسـاس این رویکرد جدید؛ کار ... ص۷





له بُن تر دوحې! ۳

د بېکارۍ د ختمولو لپاره د حکومت ګرندۍ هڅې! ۳

۵۲۴ کلن عباسي خلافت چا رنګ کړ؟ ۴

افغان اعـلانـات ۶


## د فیروزکوه ښاروالۍ څه باندې ۳۴ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

د فیروزکـوه ښـاروالۍ ریاسـت مسـوولینو په تېرو ۱۱ میاشتو کې د څـه بانـدې ۳۴ میلیونه افغانۍ عوایدو د راټولېدو خبر ورکړی دی. د غـور د فیـروز کوه ښـاروالۍ ریاسـت مسـوولینو باختر آژانس ته ویلي چې یاد ریاسـت د روان کال د ورې میاشتې له پیل څخه د سلواغې میاشتې تر وروستیو پورې د ثابتو او غیرثابتو سـرچینو څخه ۳۴ میلیونه ۶۸۲ زره ۱۴۲ افغانۍ عواید راټول کړي دي.

د غور د فیروزکوه ښـاروال مولوي امین الله شـریفي وویل چې دغه عواید د یادې ښـاروالۍ د ۱۴۰۲ کال د پلان له مخـې د کورونو او سـاختمانونو د صفایي جایدادونو د کرایـې، د اشـتهاري لوحـو او صنفي جوازونو له درکه راټول شوي دي. د یادونـې وړده، چـې یادې ښـاروالۍ پـه دې مـوده کې ۱۲ کوچنۍ او لویې پروژې پلي کړې، چې پکې د ښـار د ننه د سـړکونو کانکرېټ، د دوکانونو، محافظتي، احاطوي دیوالونو، د ښـاروالۍ د اداري ودانـۍ، د موټرمینځلو او د فوټسال لوبغالي جوړ کړي دي.

## برای ۵۸۰ تن درولایت هرات زمینه تعلیمات تخنیکی و مسلکی فراهم شد

**شـریعت:** سـمیع الله ابراهیمی سـخنگوی وزارت کار و امـور اجتماعی به روزنامه شریعت گفت که بـرای ۵۸۰ تن که ۳۴۰ تن آنان درمان شده‌گان مواد مخدر و ۲۴۰ تن دیگر شـان جوانان و نوجوانان بی‌سرپرسـت و نیازمند می‌باشند، آموزشـگاه فنـی و حرفـه‌ای را در بخش‌های خیاطـی، ترمیم مبایل، لـوازم برقی منـزل و ترمیـم موتر سایکل ایجاد نموده‌است.

به گفتـه او مولـوی هدایـت الله مهاجـر فراهـی معیـن نشـراتی وزارت اطلاعـات و فرهنگ دراین خصوص صحبت کرد از راه اندازی این برنامه سـتایش نمـوده، گفت: «کسـانی را که تا دیروز در کوچه و بازار و مخروبه‌ها حیران و سرگردان بودند، مسوولین بخش مربوطه آنان را گردآوری و به جای ... ص۷

## سرمقاله
# افغانان د لوېدیځ له شدید ساړه جنګ سره مخ دي!

وروسـته له هغه چې په تېره یوه پېړۍ کې د نړۍ درې سـتر زبرځواکونه له افغانانو سره په سـختو جګړو کې له برمه ولوېدل، لویي او کبریې مات او حیثیت يې تیټ او ذلیل شـو، دادی اوس يې په منظمه توګه سـاړه جنګ ته ملاتړلې. په دغه جګړه کې د دوی ډېر کم لګښـت کیږي او سرونه خويې بالـکل په امن دي، ځکه ښـکاره ده چې هغوی پـه دې جګړه کې فقط له څلورو حربو کار اخلي: اقتصادي بندیزونه، سیاسـي مانورې، جاسوسـي فعالتونـه او دروغجن پروپاګنـد. مثلاً د اقتصادي بندیزونـو په لړ کې يې زموږ پیسـې کنګل کړې او د بانکونو فعالیت يې را محدود کړي، سیاسـي مانورې يې لکه د قطر اوسـنۍ غونډه او داسې نورې چې وخت ناوخته يې د افغانسـتان د کشالې هوارولو په نامه یو او بل ځای جوړوي خو د افغانانو دا غږ هیڅکله نه اوري چې دلته زموږ هېواد کې لانجه کومه ده او ایا تاسې کومه نوې کشـاله را پیدا کـوئ او بیايې حل کوئ او که هسـې افغانانوته اندېښنې او تشویشونه وراچوئ. دغه راز جاسوسي فعالیتونه يې لکه دا چې داعشـي او نور مفسـدین او فتنه ګرپټ پټ روزي او کلـه کله يې پر مټ ترور او چاودنې تر سـره کوي. بله حربه يې همدا پـرو پاګند، تبلیغات، د مشرانو بدنامول، د خلکو ترمنځ اختلاف اچول، بې دیني خپرول، ارزښتونه يې مسـخره کول او داسـې نور دي. مطلب دا چې دا وخت که څه هم ټول اسلامی امت د اسلام د دښمنانو له هر اړخیز یرغل سره مخ دی ۷مخ

## هلمند کې د دولتي ځمکو د غصب مخه ونیول شوه

د هلمند سـیمه ییز مسوولین وایي چې په دغه ولایت کې يې د لسګونه جریبـه دولتي ځمکـې د غصب مخنیوی کړی دی.

د مسـوولینو په خبره، د یاد ولایت د مارجې په شـېرینډل بازار سیمه کـې لسـګونه جریبه، د ګرشـک سمینار دښت سیمه کې ۲۰ جریبه او نهرسـراج یخچال سیمه کې ۲۳ جریبه دولتي ځمکه چې یو شـمېر غاصبینو غوښـتل غصب يې کړي د مارجې، ګرشـک او نهرسـراج ولسوالیو د کرنې او منیتي مسوولینو پـه همـکارۍ لـه غصـب څخه وژغورل شوې.

د یادونـې وړ ده له دې وړاندې هم یادو ولسوالیو کې د دولتي ځمکو د غصب مخه نیول شوې وه.

## فراه ولایت د ګمرک ریاست مسؤلین د عوایدو لوړېدو خبر ورکوي

فـراه ولایـت د ګمـرک ریاسـت تخنیکـي او مسـلکي مرسـتیال مولوي سـردار ولـي «جاوید» له باختر خبري آژانس سره په ځانګړو خبرو کې د یاد ریاسـت د عوایدو د لوړېدو خبـر ورکوي او لامل يې د پخوا په پرتله په چارو کې ښشـړه روڼتیا، د کارکونکو پرلپسـې کار او چمتوالـې په ډاګه کـوي، نوموړی همدارنګه ټولو ولسي ... ۷ مخ



## جهادي خاطرې

# رهنما شهید

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

۱۴۰۰/۲/۲۸ هـ لمریز

زموږ خالق الله په هر څه قادر دی!

قـرآن کریم ګواهي ودکوي چې موسـی علیه السـلام پـه یوه لکنه (عصـا) د فرعـون د ربوبیـت داعیه ونړنکولـه، کلونه یې ورسـره مبـارزه وکړه، نـه یې د فرعون د تخـت او تاج پروا وکـړه، نه یې د واک او ځـواک او نـه هـم د جلا وطنـی درد له خپل هـوډ نه په شاکړ.

د مسـتبد نمـرود په خـلاف د تش لاسـي، تنها او زړه سـواندي ابراهیم علیه السـلام کیسـه او د غوماشي په مټ د نمرود وژل کېدا بیـا د قدرت د عجائبو یو ځانګړی شـهکار دی. د یوه مسـلمان په توګـه قوي عقیـده او باور لرم چـې په جګړه کې د برلاسـی معیار یوازې کثرت، وسـائل، وسـائط، زر او پـه پرمختللـي ټکنالوژی سمبالښـت نه دی، بلکـې د الله تعالی نصـرت، تقوا، اخلاص او سـپېڅلتوب هم د جګړې د پلې د بدلولـو پرېکنده او قاطع ارخونه دي.

دا لنډکی مقدمه مې د یوه سـاده، خرپړ، سـیده او ملنګ مجاهد د کارنامو تر راوړلو وړاندې کېښـوده؛ «رهنما» دربنیم! ملا فیض الله رهنمـا یادوم. هوا! هغه یو عجیبه انسـان و، دومـره پاک چې تصور کوې، هومـره اخلاص مند چـې فکر کړې ... که یې په شـخصي ژونـد د زده کـړو په کچه او تقوا خبر شـې هک پک بـه ورته پاتې شې.

فیض الله رهنما (موسا کلیم) چې له آره د فراه د بکوا د سوځوونکې دښـتې استوګن و، د اشغالګرو او د دوې د غلامانو دومره ککری یې ویژولې چې کیدای شـې په څـو لویدیځو، حتا په تـول هېواد کې بل کس دومره نوې ریژولې. شـهید رهنما د ماین جوړولو، ښـخولو او پر دښـمن د چوولو خورا مسـلکي، ماهـر او کار پوه و، په فراه، نیمـروز، هلمنـد او ارزګان ولایتونو کې یې د دښـمن په سـلګونه شـوبلې، خغـره وال او ټینکونه د قـوی انفجاراتو په مـټ له منځه وړي.

شـهید رهنمـا دومـره مسـلکي چې د څـو کیلـو میتره پـه واټن بـه مایـن تـه ناسـت و، او د لرویـن (دوربیـن) پـه ذریعـه به یـې چاودنـه ورکول. موسـا کلیم شـهید بـه په ورځو د دښـمن کتارونـو تـه پـه دښـتو، لهـرو او غرونـو کـې ښـک وهلـی و ...

ښـه مې یاد دي چې رهنما شـهید ته مې د ده د انفجاراتو د عکاسی لپـاره ځانګـړي کیمره ورکـړه تر څو خپلـې کارنامـې ثبت کړي. رهنمـا شـهید به په خپل نوښـت د مایـن جوړولو پېچلـې ډولونه جوړول.

همـدا ډول له موادو نه یـې ډېرې قوي پټاکـی تیارولې چې تر ډېره به یې د شـا او خـوا مجاهدینـو ته په وړیـا توګه ویشـلې. رهنما شـهید د څوکی، منصب او مسـؤلیت نه ډېر لیرې توب کاوه. ښـه راتـه یاد دي چې د نیمروز د چخانسـور ولسـوالی د کمېسـیون د مسـؤل په توګه ټاکل شـوی و، زیـات ناراضه و او راتـه یې وویل: چـې والي صاحـب ته زما شـفاعت وکړه چـې دا مسـؤلیت رانه واخلي.

د رهنمـا د کار سـاحه ډېـره پراخـه وه، کلـه چې به فـراه ولایت تـه د دښـمن د عملیاتـو د راوتلو خبر خپور شـو نو فـراه ته به مو راوغوښـت همـدا راز هلمند، نیمـروز او ارزګان. رهنما شـهید د امریکایانو تر سـخت تعقیب لاندې و، څـو ځله چاپې پرې ووهل شـوې او د ډرون ګوزارونـه پرې وشـول، خـو اللـه تعالی نجات ورکړ.

د هغه ژوند ډېر سـاده و، که څه هم غربت او مسـکنت لاندې کړی و، خو عـزم او هوډ یې فوق العاده لـوړو. بالآخره د حق د لارې دا سـپېڅلی لاروی خپل ټاپ هدف ته ورسـید... په داسـې حال کې یې د شـهادت جام نوش کړ چې په سـلګونو اشـغالګر او غلامان یې د قوي انفجارونو په مټ ټوټه ټوټه، شـل شـوټ او معیوب کړي و.

درېغه! چې ژوندی وای او د اشـغال د ختمېـدا بهیر یې هم په خپلو سترګو لیدلی وای. تقبله الله.

# سیاست واقعی جزء شریعت و دین است

**مولوي نورالحق - (بخش دوم)**

بخاطر اینکه سیاست و حاکمیت جُدَا از شریعت نیست، خداوند عزوجل مسلمانان را امر میکند که رسول الله صلی الله علیه وسلم را در تمام امورات خویش حاکم و فیصل بگردانند چنانچه میفرماید:

ترجمه: سوگند به پروردگارت که آنها مؤمن نمی شوند تـا آنکه تـو را در آنچه میان آنها واقع می شـود حاکم نگردانند و از داوری تو دلگیر نشـوند و کاملا تسـلیم شوند.

در اینجا خداوند عزوجل مؤمن بودن انسان را موقوف بر تسلیمی حاکمیت رسـول الله صلی الله علیه وسلم کرده است و می فرماید تا زمانیکه آنها حاکمیت را به تمام معنی به تو تسلیم نکنند مؤمن محسوب نمی شوند؛ این واقعه در مورد کسی نازل شده است که فیصله خود را به کعب بن اشرف می برد و حکم رسول الله صلی الله علیه وسلم را دوست نداشت.

حکم وحاکمیت یکی از افراد سیاسـت است که بخشی عظیمی دولت را تشـکیل میدهد، چیـزی که خداوند عزوجل ایمان را موقوف بر قبولانیدن آن نموده است؛ بناء کسانی که خود را مؤمن میدانند باید عقیده شان این باشد که سیاست از دین جدا نیست.

نمونه بارز سیاست و دین نظام حاکم در زمان خود رسول الله صلی الله علیه وسلم بود که در تمام بخش های مورد نیاز انسانها حاکمیت میکرد.

اگر سیاست جدا از شریعت می بود، چرا خداوند عزوجل تحکیم را به رسـول الله صلی الله علیه وسلم می سپرد و چرا رسول الله صلی الله وسلم نظام دولتی را تأسیس می نمود؟.

اگر سیاست جدا از شریعت می بود چرا رسول الله صلی الله علیه با وجـود اینکه رهبر مذهبی بود رهبر نظامی و سیاسی هم بود؟

اگر به آیات ٤٤، ٤٥، ٤٧ سوره مائده نگاه کرده شود صد فی صد برای مسـلمان ثابت می شود که سیاست از دین جدا نیست زیرا در آن آیات خداوند عزوجل میفرماید: کسـانی که به آن چیزی که از جانب خداوند نازل شده است حکم نکنند ظالم اند، کسانکی که به آن چیزی که از جانب خداوند نازل شده است حکم نکنند کافر اند و کسانکی که به آن چیزی که از جانب خداوند نازل شده است حکم نکنند فاسق اند.

حـالا حکم کردن به کتاب الله یعنی چه؟ یعنی حکومت وسیاست؛ پس میتوان گفت که عقیده جدایی سیاست از دین عقیده مسلمان نیست و استوار بر هیچ دلیل قوی و قابل اعتبار نمی باشد.

از بسی که دین در سیاست تداخل قوی و جدایی ناپذیر دارد، خداوند عزوجل در قبول نمودن حکم شرعی اختیار را از مسلمانان گرفته اند و آنها را مکلف به قبول کردن آن نموده اند چناچه میفرماید: ترجمه: نیست برای مؤمن ذکور واناث زمانی که الله و رسولش قضاوت بکند اینکه آنها در کارشان اختیار داشته باشند.

پس زمانی که مسلمان مکلف به حکم خداوند عزوجل میشـود لازم آن اتصال سیاست با دین است، زیرا حکم کردن بدون سلطه و حکومت معنایی ندارد.

حتی مسلمان مأمور شـده است که حکم منزل خداوند عزوجل را متابعت کرده و از متابعت غیر آن جدا بپرهیزد چنانچه خداوند عزوجل میفرماید:

ترجمه: پیروی آنچیز را بکنید که از جانب پروردگار تان برای تان نازل شـده است و متابعت دوستان غیر از او را نکنید چه اندک پند می گیرید.

ما مسلمانان باید در همچون آیات فکر بکنیم که خداوند عزوجـل ما را به متابعت قرآن مأمور نموده و از متابعت غیر از قرآن که عبارت از قوانین غیر اسـلامی و قوانین وضعی است، منع نموده پس لازم آن اینست که دین قانون همه شمول مسلمانان است که باید در همه ابعاد به شمول حکومتداری و دولتداری عملی شود.

کسانی که از دین معلومات ندارند و یا سیاست را به معنای حقیقی نمی شناسند، شاید مفکوره جدایی سیاست از دین را در ذهن خود بپرورانند ور نه لزوم سیاسـت با دین از قرآن، حدیث، اجماع و قیاس ثابت است و از بدو خلقت کائنات ما نمونه های زیادی از نظام سیاسی اسلام داریم که در بخش دیگر ان شاء الله بیان خواهد گردید.

بعض انسانهای کنجکاو و منجمد الفکر که به اثر نافهمی، تقلید کور کورانه و تعصب قائل به جدایی سیاسـت از دین است، هیچ دلائل قوی برای مدعی خود ندارند، فقط همیشه خرافات، هزلیات و دروغها را می سرایند تا اینکه در چشم مردم مسلمان ما خاک بپاشند و حقیقت را پنهان کنند، ولی آنها باید بدانند که پنهان نمودن حقیقت با وجود اینکه مرض منفی گرایی و مهلک اسـت، سبب رسوایی و بدنامـی خود پنهان کننده می شـود که تاریخ مملؤ از همچون حوادث است.

مکرراً به صراحت تمام میگوئیم که سیاست جزء لاینفک شریعت ودین است؛ منتظر دلائل دیگر باشید!

**ادامه دارد...**

# تهاجم فرهنگی خطرناکتر از تهاجم نظامی است

**احمد**

هـر آن موضوعاتی که در جهـان معاصر مورد افراط واضافـه روی قرار مـی گیرد، قطعاً مـورد پذیرش جامعه‌ی انسـانی نیسـت. هر چند در جامعه یی که دموکراسی یا به اصطلاح غربی ها، نظام مردم سالاری حاکم است، تمام شاخص ها و ارزشهای انسانی زیر پا بود و تا سرحدی که ازدواج هم‌جنس گرایان نیز صبغه ی قانونـی دارد، موضوعی که حتی در میان حیوانات هم ننگ اسـت، زیرا در نظام دموکراسی معیار ارزش هر عملی نزد آنان میزان سـود آوری است، اما معیار پذیـرش و عدم پذیرش هر کاری در اسـلام عبارت اسـت از حلال و حرام بودن آن، بدون توجه به سود و ضرر، هر آنچه را که حلال باشد می توان انجام داد و هر آنچه را که حرام باشـد، بایـد از آن پرهیز کرد. بناءً پیش از این که به مسـایل اساسـی بپردازیم لازم است تا مکث کوتاهی پیرامون تفاوت نظام اسلامی و نظام دموکراسی داشته باشیم. بررسی و واکاوی تفاوت های موجود میان دین انسان ساز اسلام و دموکراسی در واقع ارایه پرسش هایی تطبیقی میان آیین اسلام و یکی از افکار سـاخته دست بشر است که دموکراسی نامیده می شود.

در عصر حاضر دموکراسی و سایر تفکرات برخاسته از ذهن بشر، موضوعی پویا بوده و به بزرگترین فتنه یی تبدیل شده است که عقیده و باور شماری از مسلمانان به ویژه نسـل جوان را تهدید می کند، از همین جهت این مسأله حایز اهمیت است.

پیامبر بزرگوار اسـلام حضرت محمد مصطفی (ص) می فرمایـد: ترجمه: « اصول اسـلامی یکی از پس دیگـری به نابودی می گراید و هـر اصلی که از بین می رود، مردم پناه به اصل دیگر می برند، اولین اصلی کـه از بین می رود حکم بوده و آخرین اصل آن نماز است». بدون شک یکی از دشواری های عصر حاضر هم پیروی غیر آگاهانه برخی از مسلمانان از یهودیان، مسـیحیان، مجوسیان، و ... اسـت که بدون شک این تبعیت و پیروی بدون سـنجش، از تطابق اعمال آنان با آموزه های اصولی اسـلام، صورت می گیرد، همین ترفند غرب اسـت که امروز در شـماری از ممالک اسلامی تسـلط یافته و با استفاده از غفلت و ناآگاهی نسـل جوان، این امت را شـفته افکار خویش ساخته است و خلاصه نه تنها باور شماری از مسلمانان ناگاه را به مسـخره گرفته، بلکه عـزت آنان را نیز لگد مال کرده است در مقابل تلاش دارد باورهای فاسد و ناکار آمد خود را برای نسل جوان امت اسلامی ترویج کند.

این روزها در رسـانه های اجتماعی، شـهر و بازار، سخنی از روز عاشـقان (والنتاین) سر زبان ها و خبر از تجلیل این روز اسـت که انسان آگاه و با دیانت را سـخت می آزارد و به این باور می رسـاند که یقیناً تهاجـم فرهنگی خطرناکتر از تهاجم نظامی اسـت و هنوز که هنوز اسـت در کشـورهای اسلامی به ویژه افغانستان، مردم کور کورانه از فرهنگ و عنعنات غربی ها بدون سنجش میزان تأثیر آن بر روحیه مسلمانان، از آن، تبعیت می کنند.

این مسـأله اظهر من الشمس اسـت که غربی ها به خصوص امریکا در بیست سـال حضور غیر قانونی شان در افغانستان نه تنها مدهش ترین و مخوف ترین بمب ها و سلاح های کشـنده مانند مادر بمب ها را در این سـرزمین، اسـتعمال و آزمایش کردند، بلکه سعی نمودند تا فرهنگ مبتذل خود را در کشور مانند افغانستان که سالیان درازی نسل جوان آن از اثر جنگ های تحمیلی از تعلیم و تحصیل به دور بوده، نهادینه سازند، بدون شـک عدم آگاهی دینی، سیاسی و تهی بودن ذهن شـماری از جوانان سبب شده که امروز با پیـروی از غربی ها از روزهای ویـژه تحت نام روز عاشـقان، ۸مارچ، روز دختر، روز کودک و ... تجلیل می کنند و از عواقب و زیان های آن نمی دانند.

بنابرین مبارزه با تهاجم فرهنگ غربی باید از خانواده، مکتـب و مدرسـه، نهادهای تحصیـلات عالی و به خصوص از منابر مسـاجد آغاز شود و به نسل جوان تفهیم گردد که امروز جوانان مسـلمان در دنیا اسلام، مبارزات آزادی خواهـی و جهاد در راه الله (ج) را از مردم افغانسـتان الگو گرفته اند که نمونه بارز آنرا در فلسـطین مشـاهده می کنیم که جهان کفر به حیرت افتاده و حدود چهارماه می شود که غزه یی به کوچکی یک ولایت را تسـخیر کرده نتوانسته اند، پس چقدر زشت خواهد بود که امروز نسل جوان ما از باور های پـوچ و بی ارزش غربی ها تبعیت و پیروی کنند، دنیا و آخرت، همچنان تاریخ درخشـان کشور خود را به دست خویش زیر سوال ببرند.

# د دوحې غونډې په اړه معقول ولسي نظر

**مولوي مظهري**

افغانستان کې اوسني حاکم نظام عملاً ثابته کړې چې په اوس کې یـوازې همدغه نظام په تمامه معنی د افغانانو نماینده ګي او د هغوی د هیلو ترجماني کولای شـي ځکه د افغانستان په تاریخ کې دا یواځینی نظام دی، چې د افغانانو په غوښـتنه او قربانۍ یوازې له افغانانو څخه جوړ او په خپلو ټولو تصمیمونو کې په پوره توګه خپلواک او آزاد دی.

اوسـنی نظام نه یوازې دا چې د افغانانو څخه جوړ دی، بلکې د افغانانو د دین، مذهب، فرهنګ او ګټو ټولو ارزښتونو ته ژمن نظام دی له همدې امله یې تر اوسـه پـه امنیتي، اقتصادي، سیاسـي او ټولنیزو برخو کې په لږ وخت کې ډېر اوږد کامیاب مزل کړی، چې مثبت آثار یې د هېڅ ویښ او هوښـیار انسان څخه پټ نه دي.

دا هم تجربه شـوی حقیقت دی او هم د سالم عقل فیصله ده چـې د دې نظام له مؤثر ګډون څخه پرته د افغانسـتان په اړه هېڅ ځای ناسـته ګټه نه لري او نه هم د افغانسـتان د حالاتو څخه د ناخبرو بهر مېشتو کسانو سره خبرې کوم ارزښت لري د همدې حقیقت پر اسـاس موږ په دې باور یو چې هر څوک که د افغانانو غمخوار ځان بولي باید د اوسني حاکم نظام سره جوړ راشي او داسې عاقلانه تعامل غوره کړی چې د شخصي او بهرنیو هېوادونو د ګټو پر ځای د افغانانو ګټې په کې خوندي وي. ممکن ځینې خلک دا زموږ شخصي نظر وبولي خو موږ یې داسې حقیقت بولو چې پوره عقلي او تجربوي لاسوندونه له ځان سـره لري چې د اوس لپاره نړیوالو او هغو کسـانو ته چې ځانونـه د دې نظام مخالفین بولي بېلـه تعامله بل هېڅ مؤثر او معقول غوراوی شـتون نه لري ځکه نو د کنجکاوي او خوشي سـتړیا پر ځای باید د ا.ا.ا سـره د خبرو او عقلانیت پر مېز کېني.

# د بېکارۍ ختمولو لپاره د حکومت ګړندۍ هڅې!

**آرین**

ټاکل شـــوې د روان کال په اګشـــت میاشت کې د هېواد په کچه د کار ملي کنفرانس جوړ شي، تر څو په کور د ننه د بېکارۍ کچه را ټیټه او افغان ولس ته کاري فرصتونه رامنځته شي ،په یاد کنفرانس کې به د اســـلامي مارت لوړ پوړي چارواکـــي، پوهان، عالمان، د پوهنتون اســـتادان او نـــور د نظر خاوندان ګـــډون کوي، چې د بېـــکارۍ علتونه مالوم او حللارې ورته ولټول شـــي، په دې برخه کې د کار نړیوال ســـازمان هم له دوی ســـره همغږي لري او هڅه کوي،چې د یاد ســـازمان پام د افغان ځوانانو بېکارۍ ته را جذب کړي، تر څو هېوادوالو ته مناســـب کاري فرصتونه برابر کړي او په غیر قانوني توګه له هېواده کډوالۍ ته اړ نه شي!

په دې اړه د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویلي، په راتلونکي کې زموږ. یوازینۍ هڅه داده،چې په ټول هېواد کې د بېکارۍ جرړې ختمې او د کاري فرصتونـــو د رامنځته کولو په هدف په یاد کنفرانس کې د عالمانو، پوهانو، د قلم خاوندانو او خصوصي ســـکټور استازو نظرونـــه او وړاندیزونه واخلو، تر څو په کور د ننه افغان ځوانانو ته کاري بوختیاوې او فرصتونه زیات شـــي. دا په داسې حال کې ده، چې له دې وړاندې د کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د ۵۴ امارتي ادارو د اســـتازو په ګډون؛ د کار ملي کنفرانس په لاره اچولو لپاره لومړنۍ مشورتي غونډه ترسره کړه، ترڅو د کاریابۍ فرصتونه برابر شي،د بېکارۍ کچه راټیټه شـــي، بهرنۍ او کورنۍ پانګه‌اچونې ته زمینه برابره شي، له خصوصي ســـکټور سره نږدې همغږي جوړه شي او په ټوله کې د بېکارۍ شته ستونزې ته په واقعي توګه رسېدنه وشي.

راځـــو اصلي خبرې ته چې په هېواد کې د بېکارۍ ســـببونه څه او کومې حللارې شـــتون لري؟ دا هغه پوښـــتنې دي،چې په لاندې کرښـــو کې د بېکارۍ، د اقتصادي او ټولنیزو پایلو تر څنګ مطرح شـــوي، چې تر ټولو لومړی یې اقتصادي اِتکا ده، چې دا مسئله د دې باعث شـــوې، چې موږ ونه شـــو کولای په اقتصادي ډګر کې هراړخیز او ګټور پروګرامونو پلـــي کړو،نو په هېواد کې د بېکارۍ د کچـــې د لوړېدو یو مهـــم لامل همدا دی، دغـــه راز د کرنې او مالدارۍ ســـکټور ته نه پاملرنه د دې لامل شـــوې، چې یو شمېر خلک دغه مســـلک پرېږدي او په ډېرو مواردو کـــې نورو کارونو ته مخه کړي.ځینې نور عوامل هم شـــته لکه د خصوصي سکټور نه پیاوړتیا، د بهرنیو مرســـتو بندېدل،د نفوس زیاتوالی او د کاري ځواک د غوښـــتنې کموالی، لـــه کلیو او بانډو څخه ښـــارونو ته کډوالي هغه عوامل دي، چې د بېکارۍ په زیاتېدو مستقیمه اغېزه لري!

داچې د بېکارۍ پدیده د نړۍ په ټولو هېوادونو کې څه ناڅه شتون لري او د درېیمې نړۍ هېوادونو کې د دندو موندنه له خورا سختو کارونو څخه شـــمېرل کېږي، افغانســـتان هم په دې ډله هېوادونو کې راځي، چـــې درملنه یې متخصصینو، اســـانتیاوو او لا زیات وخت ته اړتیا لري، که څه هم د اســـلامي امارت مســـؤلین د کار موندنـــې او د بېکارۍ د کچې د راټیټولـــو برخه کې کوټلي ګامونه اخلـــي او هڅې یې ګړندۍ کـــړې، چې د قوش تېپې، د ســـرپل ګازو، د کابل نوین ښـــارګوټي او د عینک د مســـو کان استخراج کې په ترتیب ســـره ۳۰ زره، ۲۰ زره، ۳۵ زره، او ۳۰زره تنو ته به کاري زمینې برابرې شـــي، دغه راز په تېر یـــوه کال کې په دولتي او نادولتي ادارو کې څه باندې ۱۰۰ زره کسان جذب شوي او په رسمي توګه یې دندې پیل کړې دي.




په هر حال تېرو کلونو ته په کتو د افغانستاند د کمزوري اقتصادي حالت او بیکاري اوسنۍ ســـتونزه نه ده، بلکې له دې وړاندې هم ډېرې ځوانان په کلیو او بانډو کې بېکاره ګرځېدل او ډېری وګړو د بېکارۍ له امله ګاونډیو په تېره بیا پاکستان، ایران او ترکیې ته مخه کوله، تر څو د کورنۍ لپاره یو څه وګټي او څو ورځې یې په هوساینه کې تېرې شـــي، نو د بېکارۍ د دوامدارې ستونزې د ختمولو لپاره پـــه کار ده،چې په حکومتي اډانه کې [لنډمهاله، منځمهاله او اوږد مهاله] پروګرامونه ترتیب او پلي شـــي، ځکـــه د بېکارۍ د کچې راټیټول د عملي کړنو، هراړخیزو او مطلوبو پالیسیو او پروګرامونو له غوره کولو سره مستقیمه اړیکه لري،په همدې تړاو افغانستان د پراخو طبیعي زېرمو او ستراتیژیک موقعیت ته په کتو ډېر ښه ورته جوړ دی، چې د افغانانو د هوســـاینې او هیلو پوره کولو لپاره ښـــه زیری له ځانه سره لري.

پـــه ټوله کـــې افغان ولـــس د یاد کنفرانـــس له جوړېـــدو هرکلی کوي او د کار له نړیوال ســـازمان او پرمختللو هېوادونو غوښـــتنه کوي،چې په دې برخه کې له افغانســـتان سره همکاري وکړي او له اســـلامي امارت سره په همغږۍ د بېکارۍ ســـتونزه د تل لپاره حل کړي،حکومت هـــم باید په کور د ننه په یاد کنفرانس بســـنه ونه کړي، بلکې د ســـیمې او ګاونډ له هېوادونو ســـره دې د دغې پدیدې په اړه غونډې جوړې کړي، ځکه همدا کنفرانســـونه دي، چې یوازې د ســـتونزو حللارې ســـنجوي، خو د دغې ســـتونزې د دایمي لـــرې کولو لپاره جـــدي اړتیا لیـــدل کېږي،چې نړیوال ســـازمانونه عملي ګامونه پورته کړي او د نـــړۍ له نورو هېوادونو مرســـته وغواړي، تر څو ورته بنســـټیز حل ولټول شي او هر افغان د پردیـــو هېوادونو د ودانولو پـــر ځای خپل پلرنـــی ټاټوبی ودان کـــړي او په دوامـــداره توګه خپلـــې خاورې تـــه د خدمت جوګه شي.

# وروستۍ تصفیه

**منیر فاروقي**



که چېرې موږ وغـــواړو، چې په ټوله نړۍ کې یـــوه عمومي تصفیه وکړو، په داســـې شـــکل چې نېکان او صالحه انســـانان یو طرف، همدارنګـــه بـــد او بېکاره انســـانان بل طرف ته کړو، نـــو دا به ډېره ســـتونزمنه وي یعنې ناممکنه به وي، که یې جـــدا هم کړو، بې له شـــکه چې دا تصفیه بـــه ناکامه وي. ځکه د هېچا پـــه تندي یې نه دي لیکلي، چې دا کس ښـــه او که بد دی. یو ســـړی به په ښـــکاره ښـــه اعمال کوي، خو له باطن څخه یې څوک نه دي خبر، چې دا ښـــه دی. همدارنګه بد انسان هم درواخله. تصفیه کول په دنیا کې تراوسه نه چا کړې او نه امکان لري.

هغـــه ورځ راتلونکې ده، چې د آدم علیه الســـلام څخـــه تر قیامته چې څومره انســـانان تېرشـــوي او تېرېږي؛ د ټولو تصفیه به وشي. دا ناممکن کار به ممکن شـــي. الله جل جلاله د هغې وروســـتۍ تصفیې په اړه ســـورة یاسین کې داســـې کړې ده. په هغه ورځ چې مجرمانو ته به وویل شـــي جدا شئ. دا به څومره سخته تصفیه وي. الله جل جلاله په خپل کلام (ســـورة الزلزال) کې داســـې فرمايي. (پـــه هغه ورځ چې خلکو ته خپلې عملنامې ورکړل شـــي، چا چې یوه ذره غوندې نېکي کړې وي، هغه به هم حسابېږي/تلل کېږي او چا چې یوه ذره غوندې بدي کړې وي، هغه به هم حسابېږي).دغه تصفیه او پاڼه یې ډېره مهمه ده. په دغه یاده شـــوې ورقه کې سابقه د نېکیو ډېره په کار ده، د چا چې د نېکیو ســـابقه ډېره وه او په دنیا کې یې د حرامو او ناروا کړنو ســـره قطع روابط کړې وي، د الله لپاره یې بغض او محبت کـــړی وي؛ نو یقیناً د همدغو خلکو د تصفیې پاڼه کې به ډېره او ښکلې سابقه لیکل شوې وي او همدغو خلکو ته به د تصفیې ورقه په ښي لاس کې ورکول کېږي. ډېر خوشحاله په خندا بـــه د خپلو کورنیو خواته راګرځـــي او وایي به، چې دا دی زه په دې ســـخته تصفیه کې کامیابه شـــوم. د دنیا به څه تصفیه وي او څه به یې ســـختي وي، تصفیه خو د مرګ څخه وروسته پیلېږي. کله چې انســـان مړ شي او قبر ته یې ښکته کړي او د تېرې ارزیابۍ لپاره ورته دوې ملایکې راشي او درې اسانه پوښتنې ورڅخه وکړي، چې رب دې څوک دی؟ دین دې څـــه دی؟ نبي دې څوک دی؟ چا چې په دنیا کې ښه سابقه نه لرله، جهاد او نېک اعمال یې د ریاکارۍ لپاره کړې وي، علم او عمل یې د خپل ځان مشـــهورتیا لپاره کړی وي او همدارنګه خپل دین او قرآن یـــې د (مطاع قلیل) د یو څو روپیو په بدل کې خرڅ کړی وي؛ نو هغـــوی به وایي (لا ادري لا ادري) زه نـــه پوهېږم، زه نه پوهېږم. په هغه ورځ به مجاهد، مخلص او مجرم معلومېږي.

قدرمنو مجاهدینو! د دې دنیا تصفیو په کیســـه کې مه اوسئ، که مو جهاد د الله جل جلاله رضا لپاره کړی وي؛ هماغه ذات به یې بدله درکوي او که کوم شخص جهاد نه وي کړی او د مجاهدینو سره یې اخـــلاص هم نه وي کړی او اوس یې ځانونه د اســـلامي امارت په صـــف کې د مجاهد یا مخلص په نوم داخل کړی وي، نو په خدای قســـم که د الله له منګولو خلاص شـــئ. توبه وباسئ او په ریښتني ډول دغه د شـــهیدانو په وینو راغلي نظام ته خدمت وکړئ. په کوم منصب او چوکۍ چې ناســـت یاســـت، په ریښتني ډول د هغه حق ادا کړئ، تر څو د الله جل جلاله له منګولو خلاص شـــئ او که مو داســـې ونه کړل؛ لرې نه ده چې د الله په حضور کې به سرټیټي او د هغو مجرمانو په ډله کې به ولاړ یاســـت، چې الله جل جلاله یې یادونه کړې ده (نن ورځ دې مجرمان جدا شـــي). بیا به ارمان کوئ او وخت به تېر وي. وخت سره زر دی، مه یې ضایع کوئ.

# له بُن تر دوحې!

**ذاکر جلالي**

بُن او دوحې دواړو د افغانستان د مسئلې په دوو مهمو پړاوونو کې د برخلیک ټاکونکو ناستو کوربتوب کړی. بُن له امریکایي اشغال وروسته اشـــغال ته په اصطلاح د مشروعیت(!) ورکولو یوه هڅه وه. شل کاله وروســـته ثابته شوه چې هېڅوک یوه ملت ته اشغال مشروع نه شي ګرځولی!

دوحـــه بیا د بُـــن د تېروتنې د ســـمون یوه هڅه شـــوه. کله چې پـــه ۲۰۰۷م کې د اشـــغال پرخلاف مقاومت اوج ته ورســـېده، امریکایان پوه شول چې د جګړې له لارې نه شي برلاسي کېدای. پـــه ۲۰۱۰ کې په لندن کې غربي ټلوالې پرېکړه وکړه چې طالبانو ســـره خبرې وشـــي او د طالبانو په توافق د خبرو لپاره دوحه ښه ادرس وګڼل شو.

دوحـــه د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د خبـــرو کوربه وه. په پای کې دوحې دا امتیاز خپل کړ چې په افغانســـتان کې د اشـــغال د پای هوکړه لیک په همدې ښـــار کـــې د ۲۰۲۰ م په فبرورۍ کې لاسلیک شو.

د اشـــغال د پای له لاسلیک وروســـته په دوحه کې د خبرو لړۍ کمرنګه شـــوه. د طالبانو د بریا نښـــې نښـــانې په ښکارېدو وې. اشـــرف غني د خپلې غلطې محاسبې له مخې هڅه کوله چې د خبرو په ناکامولو امریکا قانع کړي چې افغانستان کې جګړې ته دوام ورکړي؛ خو په نهایت کې امریکا ونه غوښـــتل چې جګړه تر شلمو کلونو زیاته وغځوي.

اوس چـــې امـــارت بشـــپړ واکمن دی او ســـره له ټولـــو ننګونو د نظـــام بنســـټونه ورځ تر بلـــې ټینګـــوي، اړتیا نـــهویني چې دوحـــه کې په یوه داســـې ناســـته کې ګډون وکړي چـــې اجنډا، ترکیـــب او بحثونه بشـــپړ وضاحـــت او نتیجه ونه لـــري. پر دې هم ټـــول معترف دي چې د افغانســـتان د اســـتازي پـــه توګه د امـــارت له ګډون پرته کـــه هره پرېکړه کېږي، کومـــه پایله به ونه لري.

په سیاســـت کې مهمـــه دا ده چې لوبغاړی خپـــل د قوت ټکي تشـــخیص او پر وخت یـــې وکاروي. اوس که امـــارت د پام وړ دلایلو په نظر کې نیولو سره د نه ګډون پرېکړه کړې، څه یې نه دي بایللي...،خو غونډې خپل اهمیت بایللی. دا ناســـته نه لومړنۍ ده او نه به هم وروســـتنۍ شي. تر هغې چې د افغانستان او غربي هېوادونو ترمنځ پر شته مســـایلو یو واقعبینانه او عملګریانه چلن خپل نه شي، دا ناســـتې د نظریاتو له تبادلې ورهاخوا بله پایله نه شي لرلی.

د دوحې ناستې وښوده چې:

- امـــارت ســـره د ســـیمې د هېوادونو دوې اړخیـــزې اړیکې پر متقابلو ګټـــو ولاړ یو واقعیت دی چې م.م. پـــرې اعتراف کوي.
- هېڅـــوک نه شـــي کـــولای امارت ســـره د ســـیمې او نړیوالو ځواکونـــو مـــخ پـــر زیاتېدونکـــي اړیکـــې مدیریـــت کـــړي.
- هېڅوک د افغانستان اړوند بحثونو کې د امارت له مرکزي رول څخه انکار نه شـــي کولای او په دې اړه د م.م. سرمنشـــي وویل چې له ناستې وروسته سمدلاسه امارت سره سلا مشورې پیلوي.
- د ځانګـــړي استازي د ګومارنـــې او رول پـــه اړه د امـــارت نظـــر لـــه پامـــه نـــه شـــي غورځـــول کېـــدای.
- امـــارت پـــه نـــه ګـــډون د ناســـتې تنظیموونکـــو تـــه روښـــانه پیغـــام ورکـــړ، چـــې امـــارت تعامـــل غـــواړي خو د افغانســـتان د خپلواکـــۍ، وقـــار او ارزښـــتونو پـــه قیمـــت نه!

او په نهایت کې عملا وښـــودل شوه چې پخوانی دور تېر دی او د افغانســـتان په اړه د پرېکړو واک یوازې د افغانانو او د افغانستان د نظام دی.



# اسلام کې قومیت نشته!

لطف الرحمن قمري

په اسلام کې د غوره والی او لوړوالی معیار تقوی او نیکي ده نه نژاد، ژبه، نسب، قوم او سیمه.

ټول مسلمانان یو شان دي او یو پر بل غوره والی نه لري مګر په تقوا سره الله ﷻ فرمايلي: (سورة الحجرات۱۳)

ای خلقو! بېشـــکه موږ تاسو له یوه ســړي او له یوې ښځې پیدا کړي يئ او موږ تاســو ځانګې او قبیلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاســو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نیزد په تاسو کې ډېرعزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی۔ بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی.

د رســـول الله صلی الله علیه وســـلم په دور کې د مهاجرینو او انصارو تر منځ ورورولي وه چې دا ورورلي د اسلام پر بنا وه نه په کوم بل مقصد.

د حجة الوداع په ورځ يې آخري وصیت دا و، چې تاســـې ټول د آدم څخه یاست او آدم د خـــاورې څخه دی، عرب پر عجم هېڅ غوروالی نه لري او نه هم عجم پر عرب غوروالی لري نه ســـپین په تور باندې او نه هم تور پر سپین باندې مګر غوروالی په تقوی کې دی.

په اسلام کې مادي معیارونو ته هېڅ اعتبار نه شته، بلکې دلته په معنوي معیارونو او ارزښتونو حساب کېږي.

د اسلام له نظره په قوم، ژبې، نژاد او داسې نورو باندې ویاړل او افتخار کول، او نور اساسي ارزښتونه له نظره غورځول جاهلیت بلل شوی دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ډېرلوی صحابی حضرت ابوذرغفاری یوه ورځ حضرت بلال حبشـــي ته وویل چې ای د تورې ښـــځې زویه!! کله چې دا خبره رســـول الله صلی الله علیه وسلم واورېده ډېر په قهر شو او حضرت ابوذر ته يې وویل چې په تا کې اوس هم جاهلیت شته.

اســـلام دغســـې تعصباتو ته چټلي او ناولتیا ویلې او رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته حکم کړی چې دغسې افکار او نظریات پرېږدي او ګوزارېې کړي ځکه چې دا چټلي او ناولتیا ده.

هـــر هغه څوک چې قومیت پالي او خلک ورته را بولي او د قوم لپاره جګړه کوي رسول الله ﷺ وايي چې دا زموږ څخه نه دی.

(ابـــوداود). ژباړه: هغه څوک لـــه موږ څخه نه دي چې خلـــک قومیت(قبیله، ژبه، ســـمت، رنګ... ) ته رابولي اوهغه څـــوک له موږ څخه نه دي چې په دغه منظورجګـــړه کوي اوهغه څوک له موږ څخـــه نه دي چې په همدې مفکوره مړ شي .

مطلب دادی چې مؤمنان د یو ســـړي په شان دي چې سر يې درد وکړي نو ټول بدن ورســـره نارامه وي او که ســـترګي درد وکړي نو ټول بدن ورســـره نارامه وي که د نړۍ په هرکونج کې مســـلمان په تکلیف وي نو نور مســـلمانان به يې درد احساسوي.

الله دې ټول امت مســـلمه را ویښ کړي چې د غزې د مســـلمانانو په دفاع کې ودرېږي.

# له مرګه وروسته!

حسان مجاهد

له جنازې وروسته خلک له یوې او بلې خوا د قبر د بندولو دومره کوشش کوي، لکه دوی چې د مړي په را وتلو ډارېږي.

یو په قبر کې وايي: رب مي الله تعالی دی، نبي مي محمد ﷺ دی او دین مي اسلام دی؛ خو یو بیا وايي ها ها ها زه نه یم خبر!!!

یـــو په قبر کې د الله تعالی لقاء ته لیوالـــه وي او وايي: ربه قیامت ژر تر ژره تیار کړه، یو بیا وايي: ربه! ما ته صرف دومره فرصت راکړه، چې یوځل دنیا ته لاړ شم او نیک اعمال وکړم.

څـــوک له قبره بهر د لمر له ګرمایش یا د یخ له امله وايي اوف اوف! او تنګ وي چې دعا ژر خلاصه شـــي او یو څوک بیا په قبر کې د ملایکو درنو ګزارونو او د مارانو او لړمانو عذابونو ته بند پاته وي.

له قبره بهر لا پنځلس دقیقې نه وي تیرې، چې بیا ځای خالي وي، چوپه چوپتیا خوره وي او راغلي خلک بیرته ســـتانه شوي وي، خو په قبر کې داخل بیا څوک تر قیامته پورې د انتظار اوږدې شیبې شمارې.

څوک پـــه قبر کې دننه له جنته خپل ځای ګوري او پـــه نعمتونو نازول کېږي او د چـــا بیا زګیـــروی وي او د قبر له تنګي، تورې شـــپې او هیبتناک حالت څخه کړیږي.

لـــه قبره بهر ولاړ خلک ژر تر ژره غواړي، مړی یـــوازې پرېږدي او خپلو کارونو ته ورســـېږي، خو څوک بیا له قبره تر هغه وخته د خپلو دوستانو د چپلکو ټکان اوري چې ترې پټیږي.

خـــدای خبر چې موږ به په تلپاتي نعمتونو کې اوســـو او که په دردناکو عذابونو کې؟!

ای زموږ ربه موږ ګنهکار یو ته مو وبښه!

# ۵۲۴ کلن عباسي خلافت چا رنګ کړ؟

لیکنه: عابد

د اسلام سپېڅلی دین به تر قیامته چلېږي، قیامت به په ناوړه، بـــدکاره او کافرو قائمېږي. چې قیامت راځي، نو د ځمکې په ســـر به یو مسلمان هم پاتې نه وي، ولې له هغه مخکې به په اســـلام او منونکو يې ډېرې لوړې ژورې راځي. رســـول الله صلی الله علیه وسلم ویلي، چې: لومړی به نبوت وي، چې ۲۳ کاله و، بیا به راشـــده خلافت وي، هغه ۳۰ کاله و، بیا به پاچاهي او ملوکیت پیل شي.

دا چې امام حسن رضي الله عنه څو میاشتې خلافت وکړ، (د رســـول الله صلی الله علیه وســـلم د وړاندوینې ۳۰ کلونه) يې بشـــپړ کړل. بیا يې له امیر معاویه رضي الله عنه ســـره په ځینو شـــرطونو روغه وکړه او خلافت يې ور وسپاره. هغه دا درنده دنده او عهده خپل زوی یزید ته پرېښـــوده! یعني هغه يې ولیعهد او ځیناستی وټاکه چې ډېرو لویو صحابه کرامو ورسره مخالفت وکړ. امام حسین بن علي رضي الله عنه خو له خپلو یارانو سره د کربلا په ډګر کې شهید شو.

د امام له شـــهادته وروسته یزید واکمن و، چې د خجالتۍ په مرګ وفات او د هغه زوی دوهم معاویه واکدار شو، خو هغه د خپل پلار د ناوړه عمل له لاسه شرم څخه واک پرېښوده.

بیا د امویانو د کورنۍ بلې پښې ته واک ولېږدېده چې په دې کورنـــۍ کې ګڼ خلیفه ګان د خلافـــت او واکمنۍ په ګدۍ وځلېدل، د فتوحاتو لمن يې له اندلس، کاشغر، قسطنطینې، هند او سند اوږده کړه. ډیرې سیمې يې تر خپل امارت لاندې را وســـتلې یعنې ډېر فتوحات يې وکـــړل او لوی امارت يې تشـــکیل کړ. اموي واکمنانو ټوله پاملرنه د کافر دښـــمن لور تـــه اړولې وه، څو ځله داخلي بغاوتونه وشـــول، خو هغه يې هم غلي کړل.

هو! امویانو ډېر فتوحات وکړل، خو کله چې واک سلیمان بن عبدالملک ته ورســـېد، نو هغه له لویو فاتحینو سره ډېر ناوړه چلند وکړ، محمد بن قاســـم رحمه الله يې د هند و سند له فتوحاتو را وغوښـــت او د ختیځ لمر یـــې په عراق کې ډوب (شهید) کړ. همدارنګه طارق بن زیاد رحمه الله، موسی بن نصیر رحمه الله او نور يې هم تحقیر او توهین کړل.

د یادولـــو وړ ده چې حجاج بن یوســـف ثقفـــي هم ځینې علویان افغانستان ته را وشړل او هم يې په ناحقه عبدالله بن زبیر رضي الله عنه، ســـعید بن جبیر رحمه الله او ډېر علماء کرام شهیدان کړل!!

حجاج چې علویان او نور مخالفان افغانستان ته را تبعید کړ، هغوی هم د امویانو د راځملولو پروګرام جوړ کړ، ابو مسلم خراساني د امارت له غوښتونکو عباسیانو سره ملګری شو او د هغوی په ملاتړ يې مبارزه پیل کړه.

اموي حاکم او والي (نصر بن ســـیار) له خراســـانه وشاړه، مبارزه يې تر عراقه ورســـوله او بیا يې ان تر دمشقه اوږده کړه. وروستی اموي خلیفه هم وتښتېده او عباسیان برلاسي شول، د اموي واکمنۍ د زوال یو لامل دا و، چې له عجمو ســـره يې غوره چلند نه کاوه.

وروستي اموي واکمن د عباســـي دعوت د مخکښ ابراهیم ســـر په بنۍ کې تاو کړ او و يې واژه، نو د دوی پلویان هم په قهر شول، اموي واکمن يې وځغلوه او عبدالله سفاح عباسي يې خلیفه کړ، د عباســـیانو د نسب شجره د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره (عباس بن عبدالمطلب) ته رسېږي. چې د دې لړۍ ۳۷ تنه خلافت او امارت ته رسېدلي دي.

عباســـي واکمنۍ هم ډېرې لـــوړې ژورې لیدلې دي، اموي امیران يې ټول وشـــړل، تر دې چې اندلس ته ځینې مشـــران لاړل او د اندلس د یو لوی دولت اســـاس يې کېښـــود چې ۸۰۰ کاله يې دوام وکړ. عباســـیانو ټـــول ۵۲۴ کاله خلافت وکړ. ډېر فتوحات يې وکړل، زیاتې ســـیمې په عباسي دولت کې داخلې او د اسلام په نور منورې کړې. د دوی څو واقعې زړه بوږنوونکې وې:

د ســـیدنا امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله بندي کول او بیا يې له هغه ځایه جنازه را واېستل. (دا د ابوجعفر منصور عباسي د مهال پېښه ده.)

د ابومســـلم خراســـاني وژل، (دا هم د منصور د خلافت په زمانه کې شوي.)

د برمکیانـــو وژل او بندي کول، (د هارون الرشـــید په وخت کې رامنځته شو.)

د خلـــق القرآن په مســـئله کـــې د لویو علماؤ ځـــورول او شـــهیدول، چې امام احمد بن حنبل يې هم ډېر وکړاوه، ولې هغه په نبـــوي طریقه کلک ولاړ و او د نوموړي له امله خو د (اهل الســـنة والجماعة) نوم هم د امت ناجیې ډلې ته غوره کړل شو.

د مأمون بن هارون په مهال له نـــورو ژبو مختلف کتابونه را وژباړل شـــول او د نورو فلسفې اســـلام ته را ننوتلې، چې د همدغو علماؤ له مجلسونو به د عباسیانو دربارونه ډک وو.

لـــه ټولو زړه ټکوونکې پېښـــه په (عموریه) ښـــار کې د یوې مســـلمانې خور د کافرانو په لاس بنـــدي کېدل و، کله چې هغې وویل: (وا معتصماه!) نو خلیفه معتصم د هغې ځواب ته ورغی او له نورو بندیانو سره يې له عیسوي زندانه خوشې کـــړه. (کاش اوس هم یو څوک د یهودیانـــو خلاف د غزې مسلمانانو ته د لبیک ځواب ووايي!!!)

عباســـي خلیفه ګانو یو لوی تمـــدن رامنځته کړی و، هارون الرشـــید ورېځو ته وویل: (که ورېږئ یا نه ورېږئ ستاســـو خراج ما ته راځي) [البدایه والنهایه]

د هارون الرشـــید مېرمنې له عراقـــه مکې مکرمې ته یو لوی نهر وویست.

رومیانو به عباســـیانو ته جزیه ورکوله، رومي واکمن نفقور یو وخت څه سرغړونه وکړه، نو هارون الرشید ورته ولیکل: (اې د رومیانو ســـپیه! ته به زما ځواب په خپلو ســـترګو ووینې، نه چې وايې ورې. ستا مقابلې ته درځم!)

عباســـي خلافت ته ټول مســـلمانان منقاد او مطیع و، خو د مأمون او امین پر مهال د خلافت په ســـر ســـتونزې جوړې شـــوې، طاهر بن حســـین د مأمون ملاتړ وکړ او امین يې له منځه یووړ. دا هم د یادولو وړ ده چې طاهر د پوشنج د هرات ولایت د اوســـني پښتون زرغون وګړی و. نوموړي له عباسي خلافته سر واخیســـت او د ازادي اعلان يې وکړ، دا لومړنی ګام طاهر پورته کړ، چې وروســـته ډېر خلک او قومونه له یاد دولته ووتل او د خپلواکۍ اعلانونه يې وکړل. د مسلمانو لوی خلافت ټوټه ټوټه شو.

د طاهر له ځوځاې وروســـته صفاري دولـــت د یعقوب بن لیث صفاري په مشري رامنځته شو. له هغه وروسته ساماني دولت د اسماعیل ساماني په مشري واک وګاټه او بیا غزنوي دولت جوړ شـــو، چې د هغه سلطان ۱۷ وارې په هندوستان وخوت. همدا شان غوري سلطنت رامنځته شو، غیاث الدین غوري يې واکمن او د هغه محبوب شهاب الدین غوري يې د پوځ قوماندان و، چې د هند په ډګرونو کې وجنګېده، د هند واکمـــن راجا پرتهوي يې د جنګ په ډګر کې مردار کړ. دوی له عباسي دولت سره ډېرې حسنه اړیکې لرلې.

همدارانګه ســـلجوقي واکمني په پښـــو ودرېده چې د علم او پوهې لپـــاره يې ډېر کار وکړ، نظام الملک د ســـلجوقیانو وزیر ډېرې مدرســـې جوړې کړې. له ســـلجوقیانو وروسته خوارزمشـــاهانو لویه پرمختللې واکمني جوړه کړه، د اسلام او مســـلمانانو لپاره يې ډېر څه وکړل. له شـــاوخوا نامسلمو سره هم ښه چلېدل، خو وروستي خوارزمشاه د چنګیز خان استازي ووژل. نوموړي هم قومونه را غونډ کړي وو، نوی په پښنو درېدلی و، نو له محمد خوارزمشاه يې قاتلین وغوښتل، هغه ور نه کړل او حالات ورځ تر بلې خراب شول. بیا چنګیز خان د هغه په قلمرو حمله وکړه، محمد خوارزمشـــاه (آب ســـکون) ټاپو ته لاړ او په داسې حالت کې ومړ چې کفن يې هم نه درلود.

د مســـلمانانو په هېوادونو يې یرغلونه وکړل، ټول اســـلامي ملکونه يې ونیول، افغانستان ته هم راغی، له افغانانو سره يې ووهل، خو په بامیانو کې يې لمسی ووژل شو، د هغه په ټس کې يې بې شمېره افغانان شهیدان کړل، د هغوی وینې يې تر خپلې چونۍ را ورسولې.

چنګیـــز خان مغل چې نژدې وطنونه ونیـــول، خپل هېواد ته لاړ، هلته مړ شـــو او نړۍ د ده له ظلمه خلاصه شوه. له هغه وروســـته يې زامنو او لمسیو د خپلو عســـکرو په ملتیا بغداد ته مخه کړه. هغه مهال هلته د عباســـیانو واکمني وه، هغوی هم ورسره وجنګېدل، خو د خلیفه د شیعي لومړي وزیر ابن علقمي په واســـطه بغداد ورته تسلیم کړ او خلیفه مستعصم بالله يې هم د چنګیز لمســـي (هلاکو خان) ته وسپاره، چې هغه په بې رحمۍ شهید کړ.

د هلاکو خان په دې زړه یخ نه شـــو، ټول بغداد يې چور کړ او د بغداد لوی کتابتون یـــې دریاب ته ور واچاوه، چې یوې میاشـــتې پورې د ســـیند د اوبو رنګ بدل و او د هلاکو خان ظالمو او جاهلو عســـکرو په کتابو له پاســـه د سیند له یوې غاړې بلې ته اسونه پورې وېستل!!!

هو! هغه لـــوی بغداد، د خلیفه ګانو پلازمېنـــه او د علماؤ د پوهې مرکز د وینو څښونکي (هلاکو خان) له خوا رنګ شو، علماء شهیدان شول، ښځې، سړي، ماشومان او لویان په بې دردۍ په شهادت ورسول شول!! بغداد یتیم شو، نه هارون و، نه معتصم و او نه محمود غزنوي موجود و، نه شهاب الدین و چې د پرتهوي په څېر يې هلاکو خان څیرلی وای. محمد خوارزمشاه آب سکون کې ختم شوی و، د هغه زوی محمد جـــلال الدین د افغانانو په ملاتـــړ د چنګیز مقابله وکړه، خو هغه هم له ناهیلي هند ته پناه یووړه. د هند مســـلمان واکمن مرسته ورسره و نه کړه او هغه هم ووژل شو! نو ځکه خو بغداد هم یتیم پاتې شو او د هلاکو خان د عسکرو له خوا په مادي او معنوي لحاظ لوټ شو!!

دا اوږد تاریخ دی په ســـلګونو ټوکو کتابو ته اړتیا لري، په یوه لنډه لیکنه کې نه ځایېږي، ما دا څو کرښـــې ځکه پرې تورې کړې چې د عباســـي خلافت د رنګېدا ورځ وه، یاده واکمني د چنګېز د لمســـي هلاکو خان په لاس (۶۵۶هـ) له پښـــو وغورځول شوه، چې نن يې د پرځېدو ۷۸۹ کلونه پوره شول.

چې د مسلمانانو واکمنان په ځانګړي ډول د عربو واکداران او د لویو زورورو مسلمانو هېوادونو ډارن مصلحت غوښتونکي حاکمان ویده وي د غزې او ټول فلسطین وګړیو ته لبیک و نه وایـــي، نو یوه ورځ به د دوی دروازې هم یهود، نصارا، او نور کافران ور وټکوي!!

د اســـلامي نړۍ عامو مسلمانانو د عربو حاکمانو او غښتلیو هېوادونو واکمنانو! د فلســـطین په غـــم غمجن او ویر باندې ویرجن شئ!!!



# د حمزه بابا د مړګ ۳۰ کاله پوره شول

**تاج محمد بهار**

**ستا په اننګو کې د حمزه د وينو سره ښکاري**
**ته شوې د پښتو غزله څوان زه دې بابا کړمه**

د پښتـو غـزل بابـا اميـر حمـزه شـينواری چـې لـه مړينـې يـې ۳۰ کالـه تېرېـږي. دغـه ورځ د پښـتو غـزل شـاعران پـه کـوزه پښـتونخوا او افغانسـتان کـې د حمـزه پـه يـاد لمانځـي. د کـوزې پښـتونخوا پـه جرګـه کـې يـو شـمېر اديبـان، شـاعران او قومـي مشـران سـره راټـول شـوي وو او د حمـزه پـر يـاد يـې خبـرې او شـعرونه سـره واورول.

پـه دې اړه مـو د پښـتو ژبـې اوسـنی شـاعر سـيدجلاني جلانـد غږولـی او حمـزه يـې پښـتو ادب کـې د نـوې سـاه پـوه کوونکـی بلـی، دی وايـي: حمـزه بابـا پـه پښـتو شـعر کـې، خصوصـاً پـه غـزل کـې نـوې سـاه پـوه کـړه، نـوی رنـګ يـې ورکـړ، نوښـت يـې پـه کـې وکـړ، نـوې خبـرې يـې پـه کـې وکـړې. جلانـد حمـزه پـه پښـتو ادب کـې يـو لـوی شـاعر ګڼـي او وايـي حمـزه بابـا د دې ترڅنـګ چـې نـوې خبـرې يـې وکـړې، بلکـې د خپـل شـعر مکتـب هـم شـو او زياتـو لارويانـو ورپسـې دغـه لار ونيولـه. هغـه د حمـزه پـه شـاعرۍ کـې د خونـد، جذبيـت او راښـکون لپـاره دغـه بيتونـه يـوه بېلګـه يـاده کـړه:

**ښکليه چې مسکی په ټيټو سترګو شوې**
**هيڅ دې اټدازه د ښکلا نه راځي**
**خدايه مئين ډېر کړې چې ښېرې کوي**
**ماته خو نور چل د دوعا نه راځي**

د پښـتو ژبـې يـو بـل شـاعر او ليکـوال فريـد احمـد توپـان بيـا حمـزه بابـا پـه پښـتو ادب کـې د کلاسـيک او معاصـر ادب تـر منځـه پُـل ګڼـي. توپـان وايـي: د غـزل فـورم لـه عربـي او فارسـي نـه پښـتو ادب تـه لـه حمـزه څخـه مخکـې راغلـی دی، چـې خوشـال خـان او رحمـان بابـا پـه کـې زياتـه شـاعري کـړې ده، خـو کلـه چـې حمـزه ميـدان تـه راغـی، ده د غـزل مضمونونـه، محتـوا بلکـې د غـزل ټولـه ځمکـه يـې پښـتو کړلـه. توپـان وايـي چـې حمـزه سربېره پـر شـعر، سـينما تـه هـم ډېـر کار کـړی او دا برخـه يـې هـم ډېـره د سـتايلو ده.

اميـر حمـزه شـينواری پـر ۱۹۰۷ ز کال د لنـډي کوتـل د خـوږه خېـل يـا خـوزه خېـل نومـي کلـي کـې د ملـک ميـر بـاز خـان پـه کـور کـې زېږېدلـی دی. نومـوړی پـه قبيلـه شـينواری او پـه شـينوارو کـې اشـرف خېـل و.

دی پښـتون شـاعر، ليکـوال، فلـم جوړوونکـی او د راډيـو ويانـد و. هغـه د تصـوف د لارې لاروی هـم و او پـه دې ډګـر کـې يـې هـم کتابونـه خپاره شـوي دي. پـه شـعر او ادب کـې د ځانګـړې سـبک لـه املـه د پښـتو غـزل پـلار بلـل کېـږي.

حمـزه بابـا څـه دپاسـه ۱۳۰۰ غزلـې ليکلـي دي او کليـات يـې پـه څلـورو ټوکـو کـې خپـاره شـوي دي. د حمـزه شـينواري د شـخصيت رښـا يـوازې پـه غـزل پـورې محـدوده نـه ده؛ حمـزه تـر ۲۰۰ زياتـې ننداريـ(ډرامـې) ليکلـې دي، چـې ډېـری يـې د پېښـور راډيـو لخـوا خپـرې شـوې دي. ښـاغلي بابـا پـه بېلابېلـو ورځپاڼـو او مهالنيـو کـې بېلابېلـې څېړنيـزې ليکنـې کـړې دي، ډېـرې منظومـې او نثـري ترجمـې يـې هـم کـړې دي، لکـه د اقباليـاتو او د نهجـل البلاغـه پـه نـوم د ژبـاړې يـو کتـاب، چـې د علـي رضـي اللـه تعالـی عنـه تقريرونـه او ليکونـه دي، چـاپ شـوی دی. حمـزه شـينواري تـر شـلو ډېـر پښـتو کتابونـه او د لسـو پـه شـاوخوا کـې پـه اردو ژبـه کتابونـه ليکلـي دي.

حمـزه بابـا پـه پښـتو ژبـه کـې د لومړنـي فلـم د جوړولـو ويـاړ هـم لـري، چـې د ليـلا مجنـون پـه نامـه و؛ پـه دغـه فلـم سـره ۲۵۰ روپـۍ ورکـړل شـوي دي.

د پښـتو ژبـې دغـه شـاعر د ۱۳۷۲ ش کال د دلـوې پـه ۲۹ مـه د ۸۷ کلونـو پـه عمـر وفـات او د دلـوې پـه ۳۰ د خيبـر درې پـه خپلـه پلرنـۍ هديـره کـې خـاورو تـه وسـپارل شـو.

# مه خفه کېږه!

**قيام الدين خادم**

خفـه کېـږه مـه! خـدای شـته، هغـه د هـر غمجـن زړه فريـاد اوري او د هـر وران زړه د راټولېـدو سـامان پيـدا کـوي، تـه پـه خپـل مصيبـت کـې تـرور يـې، لېکـن دی پوهېـږي، چـې سـتا غـم سـتا د لا علمـی پـه سـبب دی، سـتا مصيبـت سـتا د بـې زړه تـوب او سـتا د ناڅيـزه خواهشـونو څخـه پيـدا کېـږي.

هغـه چـې د ګل پـه خـوا لاس اوږد کـړي او د اغـزي د لشـکې څخـه فريـاد کـوي، هغـه د خپلـې ناپوهـۍ اعـلان کـوي، خـدای ده تـه تکليـف ورکـوي، لېکـن ورسـره تميـز هـم وربښـي، پـه تکليـف خـو سـړی اختـه کـوي، خـو پـه دغـه شـان سـره يـې خپلـې خواتـه رانـږدې کـوي هـم!

ژوندانـه کـې د دغـو لغزشـو څخـه د خلاصـې لاره لټـوه!

